# د علم میراث
# خلاصه

الجامعة الاسلامية الاشرفية اوله ناحیه کندهار افغانستان

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د علم میراث خلاصه |
| ترتیب کوونکی | مولوي احمد الله |
| چاپ کال | رجب المرجب ۱۴۳۸هـق |
| کمپیوټري چاري | د تالیف او ترجمې څانګه |
| د چاپ ځل | اول |
| خپرونکی | جامعه اسلامیه اشرفیه |
| د لاسته راوړلو ځای | مکتبه اشرفیه ، ارګ بازار ، کندهار |
| | اشرفیه مدرسه، اوله ناحیه، کندهار |
| اړیکي | ۰۷۰۰۳۸۷۲۷۳ |
| | ۰۳۰۲۰۰۲۹۲۶ |
| برېښنالیک | ashrafia1410kdr@gmail.com |

# مقدمه

تعریف: علم میراث نوم دي د فقه او حساب د ثو داسی قوانینو چي د هغو په ذریعه سره د هر وارث حصه معلومه سي.

موضوع: وارث او ترکه

غرض و غایه: هر وارث ته د هغه شرعي حصه ور رسول.

واضع: الشارع الذي انشأ الشرع، و هو الله سبحانه و تعالی

فضیلت: قال نبی صلی الله علیه وسلم تعلموا الفرائض و علمو ها الناس فانها نصف العلم.

مصنف سراجي: سراج الدین محمد بن محمد بن علامه عبد الرشید السجاوندي الحنفي رحمه الله.

# الباب الاول:

## اول سبق:

ورثه پر دري ۳ قسمه دي. ۱- ذوی الفروض ۲- عصبات ۳- ذوی الارحام

۱- زوی الفروض: و هغو ورثه ؤ ته وائي چي د هغوي حصې متعيني وي.

حصص متعينه شپږ دي. نصف ، ربع ، ثمن، ثلثان ، ثلث، سدس.

زوی الفروض ټوله ۱۲ نفره دي، ۴ نارينه او ۸ زنانه.

د هغوي تدريسي ترتيب دا دي.

اب ، جدِ صحيح، اخ خيفي، اخت خيفي، زوج، زوجة ، بنت ، بنت الابن، اخت عيني، اخت علي. ام ، جده صحيحه ،

## دوهم سبق

## احوال الاب

د اب ۳ حالتونه او ۴ صورتونه دي.

۳ حالتونه ئي دا دي،۱- عصبه محض ، ۲- سدس فقط ، ۳- سدس و عصبه

۴ صورته ئي دا دي. چي كتل كيږي به چي د ميت اولاد ژوندي سته كه يا ، كه نه وي نو اب عصبه دي. كه وه كتل كيږي به چي نارينه دي كه زنانه، او كه دواړه . كه نارينه وي نو اب ته سدس ورکول كيږي او كه نارينه او زنانه دواړه وي بيا هم اب ته سدس ورکول كيږي. او كه يواځي زنانه وي نو اب ته د سدس او د عصبه دواړو مستحق دي.

## درېيم سبق:

## احوال جد صحيح

د جد دوه قسمونه دي: ۱- جد صحيح، ۲- جد فاسد

۱- جد صحيح هغه جد ته وائی چي د ميت او د جد تر منځ د ام واسطه نه وي. لکه اب الاب، او ۲- جد فاسد هغه جد ته وايي چي د ميت او د جد تر منځ د ام واسطه وي. لکه اب الام.

د جد صحيح ۴ حالتونه دي او ۵ صورتونه دي.

۴ حالتونه يي دا دي، ۱- حجب، ۲- عصبه محض، ۳- سدس فقط، ۴- سدس و عصبه.

۵ صورتونه يي دا دي. کتل کيږي به چي د ميت اب سته که يا، که وي نو جد محجوب دي، که نه وي نو جد به د اب قائم مقام وي. يعني کتل کيږی به چي د ميت اولاد سته که يا. که نه وي نو جد به عصبه وي. او که وي بيا به کتل کيږي چي نارينه دي، که زنانه دی او که دواړه دي. که نارينه وي نو جد ته سدس ورکول کيږي، که زنانه او نارينه داوړه دي، نو جد ته سدس ورکول کيږي. او که يوائي زنانه دي، نو جد ته سدس او عصبه داوړه ورکول کيږي.

## څلورم درس

## احوال اخ خيفي او اخت خيفي.

تعريف: اخ خيفي اخت خيفي و هغو وروڼو او خويندو ته وايي چي موريي يوه وي او پلاريي جلا جلا وي، د هغو درې حالتونه او درې صورتونه دي. درې حالتونه يي دا دي، ۱- حجب ۲- سدس ۳- ثلث

او درې صورتونه يي دا دي، چي کتل کيږي به چي د ميت په اصولو او فرعو کي څوک سته که يا ، که وي نو اخوة اخوات خيفي محجوبه دي، او که نه وي نو کتل کيږي به چي دوي يو دي که د يوه څخه زيات، که يو وي نو سدس ورکول کيږي، او که د يوه څخه زيات وي نو په ثلث کي برابر سره شريکان دي، ((د للذکر مثل حظ الانثيين حکم نه جاري کيږي))

## ۵ سبق:

## احوال زوج:

د زوج دوه حالتونه او دوه صورتونه دي.

دوه حالتونه يي دا دی نصفه او ربع ، او دوه صورتونه يي دا دي، چي کتل کيږي به چي د ميت اولاد سته که يا. که نه وي نو زوج ته نصف ورکول کيږي، او که وي نو زوج ته ربع ورکول کيږي،

احوال زوجة : د زوجي دوه حالتونه او دوه صورتونه دي، دوه حالتونه يي دا دي، ۱- ربع او ثمن ، او دوه صورتونه يي دا دي، چي کتل کيږي به چي د ميت اولاد سته که يا ، که چيری نه وي، نو زوجې ته ربع ورکول کيږي، او که وي نو زوجې ته ثمن ورکول کيږي.

زوجة که يوه وی او که ديوي څخه زياتي وي. ټولو ته يو ربع يا يو ثمن ورکول کيږي.

تعريف اولاد : اولاد و هغو ته وايي چي ميت ته منصوب وي بلا واسطه يا بواسطه مذکر.

## ۶ سبق

## احوال بنت

د بنت ۳ حالتونه او درې صورتونه دي. درې حالتونه يي دا دي ۱- نصف، ۲- ثلثان ۳-عصبه. او درې صورتونه يي دا دي، کتل کيږي به چي د ميت د بنت سره ابن سته که يا ، که وي نو دا د هغه سره عصبه کيږي، فللذکر مثل حظ الأنثيين، که نه وي، نو کتل کيږي به چي بنت يوه ده که د يوي څخه زياتي، که يوه وي نصف اخلی او که د يوي څخه زياتي وي، نو په ثلثانو کي برابر سره شريکاني دي.

## ۷ سبق

## احوال بنت الابن

د بنت الابن ۵ حالتونه او ۴ جملې دي،

۵ حالتونه يي دادي، ۱- نصف، ۲- ثلثان ۳- عصبه ۴- سدس، ۵ - حجب

او ۴ جملې يي دادي، کتل کيږي به چي د ميت اولاد سته که يا، که نه وي بنت الابن د بنت قائم مقامه ده، يعني که بنت الابن يوه وي نو نصف اخلی که ديوي څخه زياته وي نو ثلثان اخلي او د ابن الابن سره عصبه کيږي، ( للذکر مثل حظ الأنثيين)

که اولاد وي نو کتل کيږي به چي نارينه دی که زنانه، که نارينه وي نو بنت الابن محجوبه ده، او که زنانه دي نو کتل کيږي به چي يوه ده او که د يوې څخه زياتي دي، که يوه وي نو بنت الابن ته سدس ورکول کيږي، ليکن د ابن الابن سره عصبه کيږي ، او که د يوې څخه زياتي وي، نو بنت الابن محجوبه ده، ليکن د متحاذي (ابن الابن) يا اسفل، ( ابن ابن الابن الخ ) سره عصبه کيږي،

## ۸ سبق

## احوال اخت عيني

تعريف: اخوة اخوات عيني و هغو وروڼو او خوندو ته وايي چي مور او پلار يي سره شريک وي، د اخت عيني ۴ حالتونه او ۳ جملې دي، ۴ حالتونه يي دادی، ۱- نصف، ۲- ثلثان، ۳- عصبه، ۴- حجب، او درې جملې يي دادی،

کتل کيږي به چي د ميت په اصولو يا فرعِ مذکر کي څوک سته که يا، که وي نو اخت عينی محجوبه ده، که نه وي نو کتل کيږي به چي د فرع مؤنث څخه څوک سته که يا، که وي نو اخت عيني به عصبه وي، که نه وي نو اخت عيني د بنت قائم مقامه ده، يعني که يوه وي نو نصف اخلي او که ديوي څخه زياته وي نو ثلثان کي شريکان دي، او که د اخ عيني سره راسی نو عصبه کيږي، (للذکر مثل حظ الأنثيين)

## ۹ سبق

## احوال اخت على

تعريف: اخوة اخوات عليه و هغو ورونړو او خويندو ته وايي چې موريي جلا جلا وي او پلاريي يو وي. د اخت على ۵ حالتونه او ۴ جملې دي.

۵ حالتونه يې دادي ۱- نصف، ۲- ثلثان ۳- عصبه ۴- سدس ۵- حجب

او څلور جملې يې دادي، کتل کيږي به چې د ميت په اصولو ، يا فرع مذكر يا اخ عينى يا اخت عينى مع فرع مؤنث کې څوک سته که يا، ۱- په دغو څلورو کې که څوک وي، نو اخت عينى محجوبه ده، ۲- که په دغو پنځو کې يو هم نسته نو اخت على د بنت قائم مقامه ده، يعني که يوه وي نصف اخلي او که ديوي څخه زياته وي نو ثلثان اخلي او که د اخ عيني سره راسی نو عصبه کيږي. (فللذكر مثل حظ الأنثيين) ۳- که په دغو ۵ کې يو اځي فرع مؤنث راغلې وي نو اخت علي عصبه کيږي. ۴- که په دغو ۵ کې يو اځې اخت عيني راغلې وي نو د هغه دوه صورتونه دي، کتل کيږي به چې اخت عيني يوه ده او که د يوې څخه زياتې دي، ۱- که يوه وي اخت على ته سدس ورکول کيږي، ليكن د اخ على سره عصبه کيږي، ۲- که د يوې څخه زياتې وي ، نو اخت على محجوبه ده، ليكن د اخ على سره عصبه کيږي.

## ۱۰ سبق

## احوال ام

د ام ۳ حالتونه او ۴ صورتونه دي

۳ حالتونه يې دادي ۱- سدس ۲- ثلث ۳- ثلث باقي

۴ صورتونه يې دادي، کتل کيږي به چې د ميت اولاد سته که يا ،۱- که وي نو ام ته سدس ورکول کيږي، که نه وي کتل کيږي به چې اخوة اخوات ذی عدد سته که يا ، ۲- که وي بيا هم ام ته سدس ورکول کيږی که نه وي نو کتل کيږي به چی احد الزوجين مع الاب سته که يا ۳- که وي نو ام ته ثلث باقی ورکول کيږي، ۴- که نه وي نو ام ته ثلث کل ورکول کيږي.

## ۱۱ سبق

## احوال جده صحیحه

د جدي دوه قسمونه دي، ۱–صحیحه ۲– فاسده

جده صحیحه و هغه جدې ته وایی چي د میت او د جدې تر منځ د جد فاسد واسطه نه وي، لکه ام الام ، ام ام الام، ام الاب ،

جده فاسده و هغي جدې ته وايي چي د میت او د جدې تر منځ د جد فاسد واسطه وي، لکه ام اب الام،

د جده صحیح دوه حالتونه دي، ۱–سدس ۲– حجب، او د هر یوه لپاره درې درې صورتونه دي، د سدس دري صورتونه دادي، ۱–جدې ته سدس ورکول کیږي که یوه وي که د یوي څخه زیاتي وي، ۲– ابویه وي ، که امویه وي، ۳–یو قرابت والا وي او که د یوه څخه زیات قرابت والا وي،

وجوهات حجب درې دي، ۱–وجود ام، د ام په موجود والی کي ټوله جدات محجوبه دي، ۲–د قربی په موجود والی کي بعدی محجوبه ده. ۳–د واسطه په موجود والي کي ذي واسطه محجوبه ده،

## ۱۲ سبق

## د مسئلي د جوړولو طریقه

ذو اضعافَ اقل

د فرائضو د مخارجو بیان

د نصف مخرج ۲ دي، د ربع مخرج ۴ دي، د ثمن مخرج ۸ دي، د ثلثان ، ثلث مخرج ۳ دي، د سدس مخرج ۶ دي، د ثلث باقي مخرج ۴ دی، که د زوجې سره وي، او ۶ دي که د زوج سره وي، عصبه مخرج نه لري.

د ذو اضعاف اقل بیان : په مسئله کي چي کوم فرائض موجوده وي د هغوی د مخارجو دي ذو اضعاف اقل راویستل سی. د هر فرض مخرج دي د ذواضعاف اقل لپاره ولیکل سی. که کوم مخرج مقرر راسی هغه دي یو وار ولیکل سی. بیا کوم عدد چي اکثره مخارج فنا کوي هغه دي چپه طرف ته ولیکل سی. دغه عدد مفنی چي کوم عدد په څو واره فنا کي هغه وار دي دهغه عدد لاندي ولیکل سی. کوم عدد چي فنا نه کي هغه دي ټوله لاندي ولیکل سی. د ټولو د فنا

کولو لپاره دي په دغه طریقه سره تر اخره پوري عمل وکړل سی. بیا دی اعداد مفنیو ته په خپل منځ کي ضرب ورکول سی. چي کوم حاصل راووځي هغه مسئله ده.

# الباب الثاني

## اول سبق

## (تقسیم مسئله)

د مسئلې درې قسمونه دي، ۱-عادله ۲-عائله ۳-ناقصه

کله چي مسئله جوړه کړل سی نو د دغه درو صورتو څخه یو صورت مخي ته راځي، ۱-یا به مسئله او سهام تقسیم شده دواړه سره برابر وي دغه ته صورت عادله ویل کیږي. لکه مسئله ۱۲ سهام هم ۱۲.

۲-یا مسئله کمه او سهام به یي زیات وي، دغه ته صورت عائله ویل کیږي، لکه مسئله ۱۲ سهام ۱۳.

۳-یا به مسئله زیاته او سهام به ئي کم وي، دغه ته صورت ناقصه ویل کیږي، لکه مسئله ۱۲ سهام ۱۱.

د صورت عادلې حکم دادي چي پر خپل حال دي پریښنودل سی، د صورت عائلې حکم دادي چي مجموعه سهام دي د مسئلې بعده د «عوله» په عنوان سره ولیکل سی، مثلا مسئله ۱۲ عوله ۱۳.

په عول سره په غلطي څخه د ځان ساتني لپاره صاحب سراجي رحمه الله یوه استقراء بیان کړي ده، هغه داده چي مسئله همیشه په ۷ اعدادو کي د یوه څخه جوړیږی، ۲، ۳، ۴، ۸، ۶، ۱۲، ۲۴. مسئله که د اولنی ۴ اعدادو (۲، ۳، ۴، ۸) څخه جوړیږی نو په هغي که هیڅ کله عول نه راځي، او که په اخیرني درو اعدادو (۶، ۱۲، ۲۴) څخه جوړیږي نو کله کله عول پکښې راځي، د ۶ اعول تر ۱۰ پوري راځي وترا و شفعا، د ۱۲ عول تر ۱۷ پوري راځي، و ترا لا شفعا او د ۲۴ اعول یو ائي ۲۷ ته راتلاي سی. او د عبدالله بن مسعود رض په نزد ۳۱ هم راتلاي سی.

## ۲ سبق

د صورت ناقصې حکم چي رد هم ورته ویل کیږي. د رد ۴ قسمونه دي،

۱- ورثه متحدة الجنس وي د هغوي سره احد الزوجین موجود نه وي،

۲- ورثه مختلفة الجنس وي د هغوي سره احد الزوجین موجود نه وي.

۳- ورثه متحدة الجنس وي، د هغوي سره احد الزوجین موجود وي.

۴- ورثه مختلفة الجنس وي د هغوي سره احد الزوجین موجود وي.

د اول صورت حکم دادي، چي د مسئله د عدد رؤس څخه جوړیږي په عنوان د « رد » سره او هر یوه ته یو یو ورکول کیږي.

د دوهم صورت حکم دادي چي مسئله به د مجموعه سهامو څخه جوړیږي، په عنوان د رد سره .

د دریم صورت حکم دادي چي مسئله به د احد الزوجین د مخرج څخه جوړیږي. بیا به احد الزوجین ته د خپلې مسئلی څخه حصه ورکول کیږي. چي همیشه یو وي. باقي متحدة الجنس ته ورکول کیږي.

## دریم سبق

د څلورم صورت حکم دادي چي په دي کي دوه کارونه کیږي، اول مسئله جوړول دوهم ضرب ورکول. بیا د هر یوه دوه کاره دي، د مسئلي جوړولو اول کار دادي چي د احد الزوجین به جلا مسئله جوړه کړل سی. هغه ته به د خپلي مسئلي څخه حصه ورکول سی.

دوهم کار یي دادي چي د مختلف الجنس جلا مسئله جوړه کړل سی. کومه چي همیشه ۶ وي. او هغوي ته دي د خپلي مسئلي څخه حصه ورکول سي.

د ضرب ورکولو اول کار دادي چي د مختلف الجنس سهام دي سره جمع کړل سی. د احد الزوجین په سهم او مسئله (حاصل ضرب دي په عنوان د تصحیح سره تخفیفا «تصــ» ولیکل سی، )کي دي ضرب ورکول سی.

د ضرب ورکولو دوهم کار دادي چي د احد الزوجین مابقیه مسئله دي د مختلف الجنس په سهامو کي جلا جلا ضرب کړل سی.

# ۴ سبق

## د عصبات بیان

عصبه پر دوه قسمه دي ۱- سببی ۲- نصبی

د سببی تعریف: سببی معتق ته ویل کیږي (د هغه بیان را روان دي انشاء الله)

نصبی پر درې قسمه دي، ۱- بغیره ۲- مع غیره ۳- بنفسه

(بغیره او ما غیره د ذی والفروض په ضمن کي ویل سوي دی، )

عصبه بغیره: هر هغه ښځه ده چي د خپل ورور سره عصبه سی، هغه ۴ دي ،

۱- بنت ۲- بنت الابن ۳- اخت عیني ۴- اخت علی

عصبه مع غیره : هر هغه ښځه ده چي په وجه د فرع مؤنث د وجي څخه عصبه سی. هغه دوې دي ۱- اخت عیني ۲- اخت علی (په عصباتو کي اصل عصبه بنفسه ده)

(الف) تعریف : عصبه بنفسه هر هغه نارینه دي چي میت ته منصوب وي بلا واسطه یا بواسطه مذکر ،

(باء) تقسیم : دا عصبه بنفسه ۴ قسمه دي، ۱- د میت خپل فرع لکه ابن ، ابن الابن الخ ۲- د میت خپل اصل لکه اب، جد الخ، ۳- د میت د اب فرع لکه اخ عینی ، اخ علی ، ابن الاخ عینی، ابن الاخ علي الخ، ۴- د میت د جد فرع لکه عم عیني، عم علی، ابن العم عینی، ابن العم علی، الخ ،

(جیم) ترجیح: وجوهات ترجیح درې دي، ۱- وجه ترجیح : کله چي اول قسم موجود وي نو اخري درې قسمونه نه عصبه کیږي، که دوهم قسم موجود وي، اخري دوه قسمه محجوبه دی، او که دریم قسم موجود وي، نو اخري قسم محجوبه دي، (یعني د څلورو څخه یو قسم عصبه کیږي علی الترتیب) ۲- وجه ترجیح : په هر قسم کي د اقرب په موجود والی کي ابعد محجوبه دي، ابن په موجود والي کي ابن الابن محجوبه دي، د اب په موجود والي کي جد محجوبه دي، د اخ په موجود والی کي ابن الاخ محجوبه دي، د عم په موجود والی کی ابن العم محجوبه دي، ۳- وجه ترجیح: په اخري دو قسمو کي د قوي په موجود والی کي ضعیف محجوبه دي، یعنی د اخ عینی په موجود والی کي اخ علی محجوبه دي. او د عم عیني په موجود والی کي عم علی محجوبه دي.

(دال) حکم : که د عصباتو سره ذوی الفروض موجود وي نو مسئله به د ذوی الفروض څخه جوړیږي، بیا که د ذوی الفروض څخه څه پاته سی، نو عصباتو ته ورکول کیږي، که نه وي نو هغوي به محجوبه تصور کیږي، او که د دوي

سره ذوی الفروض نه وي نو دوي د ټول جائداد مستحق دي، او مسئله د عدد رؤس څخه جوړيږي، (په مسئله او تقسيم کي د للذکر مثل حظ الأنثيين قانون لحاظ کيږي. مثلا دوه ابنه وي نو مسئله د دو څخه جوړيږی، او که درې ابنه او يوه بنت وي، نو مسئله به د ۸ څخه جوړيږي،

(فائده: که د عصبه بنفسه دغه ۴ قسمونه موجود نه وه نو دا حکم ۵ قسم د ميت د اب الجد فرع عم الاب، ابن عم الاب، ته منتقل کيږی. بيا ۶ قسم د جد الجد فرع، عم الجد، ابن عم الجد، طرف ته منتقل کيږي. هکذا هلم جرا)

## ۵ سبق:

## د دو عددينو په منځ کي د نسبت بيان

نسبت پر ۴ قسمه دي، ۱-تماثل: ۲-تداخل ۳-توافق ۴-تباين

کتل کيږي به چي دوه عددين سره برابر دي او که اقل و اکثر، که سره برابر دي نو نسبت د تماثل دي لکه ۴ او ۴، که اقل او اکثر وي، نو کتل کيږي به چي اقل اکثر فنا کوی که يا، که يی فنا کوی نو نسبت د تداخل دي، لکه ۴ او ۸، او که يي نه فنا کوي نو کتل کيږي به چي دريم عدد دوي دواړه فنا کوي که يا، که يي فنا کوی نو نسبت د توافق دي، لکه ۴ او ۱۰ (د ۲ عدد دواړه فناء کوي. ) که يي نه فنا کوي نو نسبت د تباين دي، لکه ۴ او ۹.

فائده: کوم عدد چي په څو واره فنا کوي هغه «وار» ته وفق ويل کيږی، لکه ۴، ۸ په دوه واره فنا کوی. نو ۲ وفق دي.

## ۶ سبق

## د تصحيح بيان

د سهام تقسيم که پر عدد رؤس صحيح نه وي (بلکه کسر وي) د هغه د صحيح کولو طريقې ته «تصحيح» ويل کيږي، د تصحيح لپاره يو قانون دي، هغه دا چی په کومو طائفو کی کسر وي د هغوي د عدد رؤس او سهامو تر منځ دي، نسبت و کتل سی، چي کوم نسبت دي، که نسبت د توافق يا تداخل وي، نو د عدد رؤس وفق دي يو طرف ته وليکل سي، او که نسبت د تباين وي نو ټوله عدد رؤس دی يو طرف ته وليکل سی، او ذو اضعاف اقل دي راويستل سی، حاصل د ذو اضعاف اقل ته دي د ټولو ورثهؤ په سهامو کي جلا جلا ضرب ورکول سی، او په مسئله کي دی

هم ضرب ورکول سی، که مسئله عولي یا ردي وي نو په هغه کي دي ضرب ورکول سی، حاصل ضرب دي په عنوان د تصحیح سره تخفیفا په« تصـــــ » سره ولیکل سي.

## ۷ سبق

## د محروم او محجوب بیان

محروم و هغه چا ته وایي چي په هیڅ حال کي وارث نه وي،

د حرمت څلور اسباب دي ، ۱- رقیت ۲- قتل ۳- اختلاف دین ۴- اختلاف دار

محجوب و هغه چا ته وایي چي په یو حال کي وارث وي او په یو حال کي وارث نه وي، او په یوه حال کي کم ور ورسیږي، محجوب پر دوه قسمه دي، ۱- محجوب به حجب نقصان ۲- محجوب به حجب حرمان .

محجوب به حجب نقصان و هغه چاته وایي چا ته چي د یوي وجي څخه لږ ور ورسیږي، او دا ۵ وارثان دي، ۱- زوج، ۲- زوجة ۳- بنت الابن ۴- اخت علی ۵- عم

محجوب به حجوب حرمان هغه څوک دي چي هیڅ ور ونه رسیږي، د هغه دوه اسباب دي، ۱- واسطه : د واسطه په وجود والی کي ذي واسطه محجوبه کیږي، لیکن اخوة اخوات خیفي د دي څخه مستثنی دي، چي دوي د عم په موجود والی کی وارثان دي،

۲- الاقرب فی الاقرب: چي د اقرب په موجود والی کي ابعد محجوبه دي،

۶ وارثان داسی دي چي هیڅ کله محجوب به حجب حرمان نه کیږي، ۱- زوج، ۲- زوجة ۳- ابن ۴- بنت ۵- ام ۶- اب

حکم محجوب بل چا ته حجب نقصان یا حجب حرمان ورکولاي سی او محروم بل چا ته نه حجب نقصان او نه حجب حرمان ورکولاي سی، لیکن د عبد الله ابن مسعود په نزد باندي حجب نقصان ورکولاي سي، ځکه د ده په نزد د ۲۴ عول ۳۱ راتلاي سي.

# الباب الثالث

## ۱ سبق

## د مناسخه بیان

که کوم وارث د تقسیم شئ تر مخه مړ سی نو د هغه حصه د هغه ورثه وو ته منتقل کولو ته مناسخه ویل کیږي.

د مناسخي لپاره دوه کاره کول دي، ۱- مسئله جوړول ۲- ضرب ورکول.

بیا د هر یوه دوه کاره دي، ۱- د مسئلی جوړولو اول کار دادی چي د میت اول مسئله و غیره دي جوړه کړاي سی، ۲- دوهم کار یي دادي چي د میت ثاني مسئله و غیره بعدي جوړه کړای سی. بیا د میت ثاني ما فی الید دي ولیکل سی. د مافی الید او د مسئلی ثاني تر منځ دي نسبت وکتل سی، چي کوم نسبت دي، که نسبت د توافق وو نو، ۱- ما فی الید وفق دي د میت ثاني د ورثهٔ په سهامو کي ضرب کړل سی، ۲- او د مسئلي وفق لره دي د میت اول د ورثه احیاوو په سهامو کي او په مسئله کي ضرب ورکړل سي، حاصل ضرب به مسئلة المسئلتین وي، بیا د دواړو میتانو د ورثانو خلاصه دي د المبلغ الاحیاء په عنوان کي ولیکل سي،

## ۲ سبق

که نسبت د تباین وي نو ټوله مافی الید لره دي د میت ثاني د ورثه په سهامو کي دي ضرب ورکول سی، او ټوله مسئلې لره دي د میت اول د ورثه احیا وو په سهامو کي او په مسئله کي ضرب ورکړل سی،

که نسبت تداخل وي د هغه دوه صورتونه دي، ۱- مسئله به ما فی الید کی داخله وي ۲- ما فی الید به په مسئله کي داخل وي.

که مسئله په مافی الید کي داخله وه نو د ما فی الید وفق لره دي د میت ثاني د ورثه وو په سهامو کی دي ضرب ورکړل سی فقط،

او که مافی الید په مسئله کی داخل وو نو د مسئلی وفق لره دي د میت اول د ورثه احیاء وو په سهامو کی او په مسئله کي ضرب ورکړل سی فقط.

او که نسبت د تماصل وو نو د ضرب هیڅ عمل نه کیږي،

## ۳ سبق

## د حقوق الترکه بیان

د میت د ترکې سره ۴ حقوق تعلق لري،علی الترتیب ۱- تجهیز او تکفین ۲- اداء قرض ۳- اجراء وصیت الثلث ۴- تقسیم بین الورثه

بیا د ورثه وو ترتیب دادي ۱- ذوی الفروض ۲- عصبه نسبي ۳- عصبه سببی ۴- د عصبه سببی عصبه بنفسه ۵- پر ذوي الفروض نسبیه وو باندي رد ۶- ذوی الارحام

۷- مولا الموالات بیا د هغه عصبه بنفسه ۸- مقر له بالنسب علی الغیر ۹- موصی له بما زاد علی الثلث ۱۰- بیت المال

## ۴ سبق

## جائدادمتروکه او تقسیم بیان

د ترکي او د مسئلی تر منځ دي نسبت وکتل سی، که توافق وو نو وفق ترکه لره دي د هر وارث په حصه کي ضرب ورکړل سی، او حاصل ضرب دي پر وفق د مسئلې باندي تقسیم کړل سی، حاصل تقسیم د هغه وارث حصه ده ، که تقسیم څخه څه پاته سی نو د ترکې د اجزاو و مطابق دي د رجه په درجه د هغه اجزاء جوړ کړل سی، حاصل لره دي پر وفق مسئلې تقسیم کړل سی حاصل تقسیم د هغه وارث حصه ده به اعتبار اجزاء،

## ۵ سبق

که نسبت د تباین وي نو ټوله ترکې ته دی ضرب ورکړل سی، او پر ټوله مسئله دي تقسیم کړل سی، که نسبت د تداخل وو نو د هغه دوه صورتونه دي، ۱- مسئله به په ترکه کی داخل وي، ۲- ترکه به په مسئله کی داخل وي.

که مسئله په ترکه کی داخله وه نو وفق ترکه کي دی ضرب ورکړل سی، فقط

که ترکه په مسئله کی داخله وه نو پر وفق مسئله باندي دي حصص تقسیم کړل سی. فقط نور عمل په مثل د توافق دي،

یادونه: که د ترکې اجزاء معاونه ختم سی بیا هم د تقسیم څخه څه پاته سی نو فرضي اجزاء دي جوړ کړل سی، بمطابق مقسوم علیه یعنی باقی دي د مقسوم علیه سره ضرب کړای سی او پر هغه دي تقسیم کړاي سی، او د عشاریی په شکل کي دي ولیکل سی.

## ۶ سبق

## د دین محیط بیان

که ترکه کمه او پور زیات وي نو هغه ته دین محیط وایي، د هغه حکم دادي ترکه دي پر مطابق د پور تقسیم کړل سی، د هغه طریقه داده چي غرماء دي په منزله د ورثه وو او قدر دین په منزله د حصص او مجموع الدیون په منزله د مسئله ولیکل سي، او د ترکې تقسیم دي په مثل د جائداد متروکه وکړل سی،

کسور الترکه او دین بیان

که ترکه یا دین یا په دواړو کي کسر وي نو په هر حال کي دي ټوله د کسر په جنس کي مبسوط کړل سی د تقسیم ترکه عمل دي کړل سی،

## ۷ سبق

## عصبه سببی ((معتق)) بیان

د ده حکم دادي که عصبه نسبی موجود وي نو دي محجوبه دي که هغه نه وي دي د هغوي قائم مقام دي،

که معتق خپله موجوده دي دي عصبه دي، ((که نارینه وي که زنانه وي)) او که دي خپله موجوده نه وي نو بیا د ده عصبه بنفسه علی الترتیب عصبه کیږي. که دده عصبه بنفسه موجود نه وو نو متعق المعتق عصبه کیږي، (که نارینه وی که زنانه وي) که هغه هم موجود نه وو بیا د هغه عصبه بنفسه عصبه کیږي، هکذا هلم جرا.

## ۸ سبق

د معتقینو تر منځ د مال ولاء تقسیم تفصیل دا دي چي کتل کیږي به چي د دوي سره ذوی الفروض سته که یا که نه وي نو معتقین په منزله د ورثه د هغو قدر ملک په منزله د حصص او مجموع اقدار املاک په منزله د مسئلې ولیکل سی او مال ولاء حسب مسئله تقسیم کړل سی، او که د دوی سره ذوی الفروض وی او د مال ولاء تقسیم د متقینو تر منځ حسب ملک مستقیم وي نو فبها که نه وي نو د هغوي د اقدار املاکو تر منځ نسبت وکتل سی، که نسبت د توافق وي نو وقفونه دي سره جمع کړل سی د ټولو ورثه وو په حصو کي او په مال ولاء او مسئله کي ضرب ورکړل سی. بیا د هر معتق وفق لره دي د مال ولاء په مضروب فیه کي ضرب ورکول سي، حاصل ضرب د هغه حصه ده.

که نسبت د تباین وي نو ټوله اعداد دي سره جمع کړل سی په ټولو کي دي ضرب ورکول سی. بیا دي د هر معتق قدر ملک لره دي د مال ولاء په مضروب فیه کي ضرب ورکول سی حاصل ضرب د هغه حصه ده.

## ۹ سبق

## د تخارج بیان

که کوم وارث د نورو ورثه وو په رضامندي سره په ترکه کي په یو شئ باندي صلح وکړي د ما بقی ترکي څخه لاس پر سر سي (پریږدي) نو دې ته تخارج وائي، د تخارج طریقه داده چي اول دي مصالح په ټولو ورثه وو کي داخل کړل سی مسئله دي جوړه کړل سی. بیا دي د مصالح د حصې لاندي «ص» ولیکل سی د هغه حصه دي د مسئلې څخه منفي کړل سي، باقی مسئله دي جوړه کړل سی.

# الباب الرابع

## اول سبق

## د ذوی الارحام بیان

(الف) تعریف: د ذوی الارحام و هغو ته وایي د چا چي د میت سره خپلوي وي خو د ذوی الفروضو او عصباتو والا خپلوي نه وي.

(باء) تقسیم: د ذوی الارحام پر څلورو قسمو دي

۱- د میت فرع، لکه اولاد البنات الخ، (و ان سفلوا) ۲- د میت اصل لکه جد فاسد و جده فاسده الخ (و ان علوا)
۳- د میت د اب او ام فرع لکه ۱- اولاد الاخوات ۲- بنات الاخوة، ۳- بنو الاخوة لام الخ (و ان نزلوا)

۴- د میت د جد او د جدې فرع: لکه ۱- اعمام اخیافي ۲- عمات ۳- بنات العم ۴- اخوال ۵- خالات الخ (و ان بعدوا)

(جیم) حکم: د د ذوی الارحام حکم دادي که ذوی الفروض نسبی او عصبات متلقا (که نسبی وی که سببی) څخه څوک ژوندي وي نو د ذوی الارحام محجوبه دي او که د دوی څخه څوک نه وي نو د ذوی الارحام علی الترتیب عصبات وارثان دي، بیا د هر صنف جلا جلا تفصیل دي،

## دوهم سبق

## صنف اول : د اولاد البنات بیان

په دي کی ۵ ضابطې دي، (په هغو کي دوه ترجیحات دي) ۱- کتل کیږي به چي وارث یو دي که د یوه څخه زیات، که یو وي نو دې د ټول جائداد مستحق دي، ترجیح اوله

۲- که د یوه څخه زیات وي نو کتل کیږي به چي په درجه استواء که دي او که په عدم استواء کي دي، که په عدم استواء کي وه نو اقرم اولی ابعد محجوبه دي، ترجیح دوهمه.

۳- که په درجه استواء کي وه نو د هغه درې صورتونه دي، الف، ټول ولد وارث به وي، ب- یا ټول ولد غیر وارث به وي، ج- یا بعضی ولد وارث او بعضی ولد غیر وارث به وي. نو په دریيم صورت کي ولد وارث اولی او ولد غیر وارث محجوبه دي.

۴- په اولو دو صورتو کي کتل کيږي به چي د اصولو په صفت ذكورة او انوثت کي اتفاق دي که اختلاف، که اتفاق وو نو مسئله به د ابدان فروع څخه جوړيږي، (للذكر حظ الأنثيين) قانون لحاظ کيږي.

## ۳ سبق

که اختلاف وي نو (د ميت د طرف څخه) چي په کوم اول بطن کي اختلاف راغلي دي د هغه څخه دي مسئله جوړه کړل سی. (که عدد فرع د عدد اصولو څخه اکثره وي نو) د صفت اصول او عدد فرع لحاظ کيږي، بيا طائفة الذکور ته دي جلا ورکول سی، او طائفة الاناث ته دي جلا ورکول سی، بيا مخ ته دی تر فرع پوري وکتل سی، که اتفاق وو نو د هر يوه حصه دي په اخر کي تقسيم کړل سی، که اختلاف وو نو په کوم کوم ځاي کی چي اختلاف راغلي دي په هغه ځاي کي دي، طائفة الذکور او طائفة الاناث ته دي جلا جلا ورکول سی، او تقسيم دی کړل سی، که کسر وو تصحيح دي وکړل سی،

## ۴ سبق

## صنف ثاني: د جد فاسد او جده فاسدې بيان

په دي کي ۶ضابطې دي (په هغو کی ۲ ترجيحات دي) ۱- کتل کيږي به چي وارث يو دی که د يوه څخه زيات، که يو وي د ټول جائداد مستحق دي،

ترجيح اوله. ۲- که د يوه څخه زيات وي نو کتل کيږي به چي په درجه استواء کي دی که په عدم استواء کي دی، که په عدم استواء کي وه نو اقرب اولی ابعد محجوب دي، ترجيح دوهم. ۳- که په درجه استواء کي وه نو د هغه درې صورتونه دي الف- ټول به منصوب بالوارث وي، باء- ټول به منصوب بغير وارث وي، جيم- بعضی به منصوب بالوارث وی او بعضی به منصوب بغير وارث وی، په دريم صورت کي منصوب بالوارث اولی دي منصوب بغير وارث محجوبه دي،

۴- په اولنی دو صورتو کي کتل کيږی به چي اتحاد قرابت دی که اختلاف قرابت دی، که اختلاف قرابت وي نو ابويه ته ثلثان، امويه ته ثلث ورکول کيږی، او مسئله د درو څخه جوړيږی،

۵- که اتحاد قرابت وي نو کتل کيږي به چي اصول قريبه په صفت ذكورة او انثة کي سره متفق دي او که مختلف دي، که متفق وه نو مسئله د ابدان اصول بعيده څخه جوړيږي،

۶- که مختلف وه نو په کوم اول بطن کي اختلاف وو د هغه ځاي څخه مسئله جوړيږي، تقسيم دي کړل سی، مخته دي منتقل کړل سی.

## ۵ سبق

## صنف ثالث : د اولاد الاخوات ، بنا الاخوة او بنوا لاخوة لام بیان

په دي کي ۴ ضابطې ( په هغو کی ۲ ترجیحات ) ۱- کتل کیږي به چي وارث یو دي که د یوه څخه زیات ، که یو وي د ټول جائداد مستحق دي،

ترجیح اول ۲ – که د یوه څخه زیات وي نو کتل کیږي به چي په درجه استواء کی که عدم استواء، که په درجه عدم استواء کي وه نو اقرب اولی او ابعد محجوبه دي،

ترجیح دوهم ۳ – که درجه استواء کي وه نو د هغه درې صورتونه دي الف –ټول ولد وارث به وي، باء –ټول له به ولد غیر وارث وي، جیم –بعض به ولد وارث او بعض به ولد غیر وارث وي. په دریم صورت کي ولد وارث اولی ولد غیر وارث محجوبه دي،

۴ – په اولو دو صورتو کي اولاً دي خپله په اخوة الاخوات د ذوی الفروض او عصبه کیدو په حیث سره تقسیم کړل سی، او د هغوي فرع ته دي منتقل کړل سی، د جنس او بیا د طائفو لحاظ دی وکړل سی، د صفت اصول او عدد فروع په لحاظ سره او په عینی او علی کي للذکر مثل حظ الأنثیین او په خیفی کي د علی السویې په لحاظ سره .

## ۶ سبق

## صنف رابع : د بنات العم ، اعمام اخیافي ، عمات الخ ( کومي چي ابویه وي ) اخوال ، خالات الخ. ( کومی چي امویه وي، ) بیان

په دي کی ۷ ضابطې ( په هغو کي درې ترجیحات دی ) ( ۲ ضابطی او یوه ترجیح د ابویه او امویه د تقسیم تر مخ جاری کیږي او ۵ ضابطی او دوې ترجیح وروسته تر تقسیم جاری کیږي )

۱- کتل کیږي به چي وارث یو دي که د یوه څخه زیات، که وارث یو دي د ټول جائداد مستحق دي،

ترجیح اول ۲- که د یوه څخه زیات وی نو کتل کیږی به چي په درجه د استواء کی د ی که په عدم استواء کی ، که په درجه عدم استواء کی وه اقرب اولی او ابعد محجوبه دي،

۳- که په درجه استواء کی وه نو کتل کیږی به چي اتحاد قرابت دی که اختلاف قرابت، که اختلاف قرابت وو نو ابویه ته ثلثان، امویه ته ثلث ورکول کیږی او مسئله د درو څخه جوړیږي،

ترجیح دوهم ۴- که اتحاد قرابت وو او که اختلاف قرابت نو کتل کیږي به چی په قوت او ضعف کي سره متحد دی او که مختلف، که مختلف وه نو قوی ضعیفه محجوبه کوي،

ترجیح دریم ۵- که متحد وه نو د هغه درې صورتونه دي، الف- ټول به ولد وارث وی، باء- ټول به ولد غیر وارث وي، جیم- بعض به ولد وارث او بعض به ولد غیر وارث وی، په دریم صورت کي ولد وارث اولی او ولد غیر وارث محجوبه دی.

(یادونه: په دغه دواړو ترجیحاتو کي ابویه او امویه پر یو بل باندي اثر انداز نسی کیدای، )

۶- په اولو دو صورتو کي (کله چي اتحاد قرابت وي کتل کیږي به چي د اصولو په صفت ذکورة او انوثت کی اختلاف سته که یا، که اتفاق وو نو مسئله د ابدان فروع څخه جوړیږي،

۷- که اختلاف وو نو په کوم اولنی بطن کی چي اختلاف راغلی دي د هغه ځای څخه دي مسئله جوړه کړه سی، تقسیم دی مخ ته منتقل کړل سی، کما فی الصنف الاول

(۵ او ۶ قسم) د ذوی الارحامو ۵ قسم د میت د اب او ام د جد او د جدې فرع دي. او ۶ قسم د میت د جد د جدې د جد د جدې فرع دي. د هغوی د احکامو تفصیل په مثل د صنف رابع دي.

## ۷ سبق

## د خنثی بیان

که خنثی خلقتا یو طرف ته راجح وو نو حکم یي هغه راجح والا دي، او که په هیڅ حالت کي یو طرف ته راجح نه وو نو د ته خنثی مشکل ویل کیږي.

د ده حکم دادي چي د ده لپاره اسوء الحالین دي، طریقه یي داسی ده چي دوې مسئلی به جوړي کړل سی، په یوه کی دی خنثی مذکره فرض کړل سی، په بله کي دی مؤنث فرض کړل سی، په کوم صورت کي چي خنثی ته لږ ور رسیږي یا نه ور رسیږي په هغه صورت کي دی عمل وکړل سی،

د اما م شعبی رح په نزد د خنثی مشکل لپاره « نصف النصیبین » دی، طریقه یی داسی ده چي پر مخکني طریق باندی دوې مسئلی جوړي کړل سی، بیا دی د دواړو په مینځ کی نسبت وکتل سی، که نسبت د تباین وو نو هري مسئلې ته دي په هغه بلی ټولی مسئلی او د ورثه په حصص کي دي ضرب ورکړل سی، بیا دی د دواړو خلاصه د جمع تر عنوان لاندي ولیکل سی،

که نسبت د توافق وو نو د هري یوي وفق لره دي په هغه بلی ټولی مسئله کي او د ورثه وو په حصص کي دي ضرب ورکول سی، بیا دی خلاصه ولیکل سی،

که نسبت د تداخل وو نو د اکثر مسئلی وفق لره دي په هغه بلی ټولی مسئله کي او د ورثه وو په حصص کی ضرب ورکول سی، او خلاصه دي ولیکل سی، نسبت د تناصل وو نو په یوه صورت دی عمل وکړل سی.

# ۸ سبق

## د حمل بیان

حمل د میت ښځه وو نو په دوه کاله کي به دننه ژوندي پیدا سی، او که د غیر میت ښځه وو نو په ۶ میاشتی کی دننه ژوندي پیدا سی، نو وارثیږي که نه وي نه وارثیږی،

د حمل په باره کي حکم دا دی چي دوې مسئلی دی جوړی کړل سی ، په یوې کی دی حمل مذکر فرض کړل سی او په بله کی دي حمل مؤنث فرض کړل سی، بیا دی د دواړو مسئلو تر منځ نسبت وکتل سی، کوم نسبت چي وی عمل دی په مثل د خنثی وکړل سی. بیا د ی د حمل ښځه ماسوا باقی ورثه وو ته چي په کوم صورت کي لږ ور رسیږي ، په هغه دي عمل وکړل سی، ما بقیه دي د حمل د پاره محفوظ کړل سی، بیا د حمل په کوم صورت کی ظهور وسو د هغه په مطابق دي و د ته ورکول سی. او د هغه صورت په لحاظ سره چي کومو ورثه وو ته لږ ورکول سوی وو هغوي ته دي پوره ورکول سی. که حمل مړ پیدا سو نو مال موقفه دي په بقیه ورثه وو کي مطابق د استحقاق تقسیم کړل سی.

## ۹ سبق

## د مفقود بیان

مفقود د خپل مال په حق کي ژوندی ګڼل کیږي، تر څو پوری چي د ده د مرګ حتمي معلومات نه وي سوی، یا حاکم د ده د مرګ فیصله نه وي کړي، او د ده عمر ۹۰ کاله سی، نو هغه وخت دی پخپله مړ تصور کیږي.

په دروسره صورتو کي کله چي دي مړ و ګڼل سو نو په هغه وخت کي چي کوم ورثان ژوندي وي په هغوي کی د ده جائداد دي تقسیم کړل سی، د بل د مال په باره کي د مفقود حکم دادي چي دوې مسئلې دی جوړي کړل سی، په یوه کي دي مفقود ژوندې فرض کړل سی، او په بل کي دي مفقود مړ فرض کړل سی، بیا دی د دواړو مسئلو تر منځ نسبت وکتل سی، د خنثی والا عمل دي وسی. بیا د مفقود څخه ماسوا نورو ورثه وو ته چي په کوم صورت کی لږ ور رسیږي د هغه په مطابق دي ورکول سی، او ما بقیه دي د مفقود لپاره محفوظ کړل سی. او بیا د مفقود د ژوند او یا د مرګ چي کومه فیصله وسوه د هغه مطابق د ده او د نورو ورثه وو حکم دي.

## ۱۰ سبق

## مات المتوارثان معاً

که دوه داسی نفره یو ځای مړه سی کوم چي د یو بل وارثان جوړیږي او دا معلومه نه وي چي په هغوي کی کوم یو تر مخ مړ سو نو د هغوي په باره کي حکم دادي چي دوی یو د بل وارثان نه دي،

د حضرت علی رض او حضرت عبدالله بن مسعود رض په نزد دوی د یو بل وارثان دي لیکن هر یوه لره د هغه بل څخه په ور رسیدلې ترکه کي وارثان نه دي،

# ۱۱ سبق

## د مرتد او مرتده بيان

د بل چا د مال په باره کي حکم دادي چي مرتد او مدتده د هيچا وارثان نه دي، ليکن که ټوله وطن مرتد سی ( و العياذ بالله ) او پر هغوي باندي سزاء جاري نه کړل سی، نو دوي يو د بل وارثان دي،

که مرتد او مرتده په حالت د ارتداد کي حقيقا او يا حکما مړه سی، نو د هغوي د خپل مال په باره کي تفصيل دادي چي د هغوي مال پر درې قسمه دي:

۱- د حالت اسلام مال ۲- د حالت ارتداد مال ۳- دار الحرب ته د لحوق وروسته والا مال

نو مرتد ې درې سره قسمه مالونه بالاتفاق د هغې په ورثه وو کی تقسيمږی، او دمرتد اول قسم مال د ده په ورثه وو کي تقسيميږي، عند الاحناف.

او دوهم قسم مال د امام ابو حنيفه رح په نزد په بيت المال کي ايښول کيږي، او د صاحبينو رح په نزد په ورثه وو کي تقسيميږي .

او دريم قسم مال که مسلمانانو ته په لاس ورغلي نو مال فئ ګڼل کيږي، بالاتفاق .

# ۱۲ سبق

## د اسير حکم

که کوم مسلمان د دښمن په لاس کی قيدی سو نو د هغه درې حالتونه دي.

۱- که هغه خپل پر دين باندی قائم دي، نو حکمه کحکم سائر المسلمين فی الميراث .

۲- که هغه خپل دين پريښودي ( العياذ بالله ) نو حکمه کحکم المرتد .

۳- که يي د دين او د ژوند او مرګ کی يي څه معلومات نسته نو حکمه کحکم المفقود .